# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|




بســــــــــمل
۱۰-۱۰-۲۰۰۹

## نه پوهېږم چې د نوبل د جايزې له زېري سره
## په ښاغلي اوباما منډې کړي وي که ...

ګرانو لوستونکو!
ښاغلي اوباما ته يې په داسې وخت کې د نوبل جايزه ورکړه لکه د خاپوړو ماشوم ته چې څوک په سره ډولۍ کې ناوې راوړي.
پرون مې دا خبر په داسې وخت کې واورېد چې موټرته ناست او اوږد سفر مې په مخ کې و د دې خبر په اورېدو سره مې دومره وخندل چې نورنو د موټرله چلولو څخه عاجز وم خو دخداى پاک فضل وچې پارک ته ورسېدم له موټر څخه راکښته او څو شېبې مې دننيو انسانانو پر انصاف خپل سر وزنګاوه .
په دې خو ډېر خوښ شوم چې زموږ دتور پوستو خويندو او ورونو خيال ساتل شوى دى خو تور پوستى کوم تور پوستى يا سپين پوستى کوم سپين پوستى او کومه توره يې بايد کړې وي ؟
دکوم معيار او کومو کړنو له مخې بن ادم مکافات او ونازول شي؟
داوباما دنوبل جايزې ما ته د فهيم مارشالي راياده کړه نومې له ځان سره ووېل چې الله دې خير کړي بشريت به لا نور په کومو بلاوو واوړي .

قدرمنو خويندو او ورونو!
راځۍ چې د اوبا ما دجايزې په اړوند يوه ټوکه تاسو ته وليکم خو لامخکې له مخکې دې بې ادبي معاف وي :
يوبزګر خپل جوړه غوايان د شودياري لپاره خپل پټي ته بوتلل په کار کې ډېرستړى شودکار په جريان کې يې له ځان سره داچورت واهه چې نه په کور کې خوندورخوراکي توکي لري او نه خو په جيب کې پيسې، غوا يې هم
لا يوه مياشت مخکې له پيو(شيدو) څخه تللې وه لنډه دا چې بزګر کار ختم او ستړى ستومان دکور په خوا له خپلو غوايانو سره رراوان شو .

دکورانګړته چې ورسېد دخوړې  شوروا بوی یې تر سپوږمو شوغوایان یې همداسې په زغ  تړلي پرېښودل خپلې
مېرمنې ته یې ورمنډه کړه  ورته ووېل هله ژر شه وایه چې  اوس منډې وکړم که غول؟
مېرمنې یې ورته ووېل چې خیر خو به وي نس دې خوړیږي که ولې؟
ښاغلي  ورته ووېل چې  زما دا سپیره کور وګوره او دا دغوښې خوړ بوی؟
مېرمنې یې ورته وویل چې سم شه سړیه  مه  منډې وهه مه غول کوه  ورشه  له هر څه لمړی هغه غوایان  له  زغ
څخه خلاص او په اخور وتړه بیا خپل لاسونه ومینځه  چې ښه خوړه  شوروا درباندې ووهم  .

عزیزانـــو !
ښاغلي اوبامه  به  هم  پرون  یو څه  خو کړي وي  په  هرصورت  بیا هم  بې ادبي  راته معاف کړئ .
اوباما خو به  هلته  پرېږدو زړه یې چې  په سپینه مانۍ کې منډې وهي که . . . کوي خو تاسو راشئ  دا خپلو نارینوو
کرزي او غبرګ عبدالله  ته چې له اوباما څخه دوی ډېرې منډې او . . . کړي دي له ډېرې چاپلوسي څخه یې نړدې
نن خپل پتلون او چپنه  په  . . . لړلي وو دا یو یې له  بل څخه  د مخه اوباماته  مباره کي وېله او داسې  جالب  دلایل
یې اوباما ته  دجایزې  د وړتیا په اړوند ویلي دي  چې ماته یې هغه  دملا نصرالدین غوارا په  یادکړه خوهغه  ټوکه
به بیا له خیر سره بل وخت تاسو ته ولیکم .
اوس به  صرف پاک الله  ته خپل لاسونه لپه  اوزاری وکړم که  د نړۍ  پر مخ داسې کسان حاکمان کړي  چې د
سولې، سوکالۍ، مینې  او ورورۍ سبب  شي .

## د هغې ورځې په هیله  چې  یو انسان دبل انسان وینې تویه نه کړي